# امیر اهلسنت نه د ماشومانو باره کښې سوالات

پښتو





پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دا رِساله د امیرِ اهلِ سنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ نه شوو سوالونو او د هغې په جوابونو مشتمله ده-

# اَمیرِ اَهلِسنّت نه د ماشومانو باره کښې سوالات

**دُعائے جانشِینِ عطّار** یا الله پاکه! چې څوک هم دا د 17 رِساله "امیرِ اهلِسنّت نه د ماشومانو په باره کښې سوالات" اُولوَلي یا ئې واوري ، هغه د دین او دنیا د برکتونو نه مالامال کړې او هغه ته په دیني مسائلو باندې د عمل کولو توفیق نصیب کړې او بےحسابه بخښنه ئې اُوکړې- اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضِیلت

د الله پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ما باندې درود شریف لولئ الله پاک به په تاسو رحمتونه رالیږي- (الکامل لابن عدی، 5/505)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## سالګره په کومه طریقه کول پکار دي؟

**سوال:** ستاسو رضاعي (یعني د پئو د خپلوئ) نَمسے حسن رضا عطاري بن علي رضا ماشَآءَاللّٰه په 13 جُمادَی الاُولٰی 1440سِنِ هجری د درې کالو شو- په دې باره کښې د یو تقریب اهتمام اوشو چې په هغې کښې نه کیک کټ شو او نه پټکښې داسې نور څیزونه اوشو بلکه د نعت خوانئ او نیاز اهتمام اوشو- دا ارشاد ئېاوفرمائي: آیا مونږ دا موقع هم د ثواب د پاره استعمالَولے شو؟ او د ماشومانو سالګره په کومه طریقه کول پکار دي؟

**جواب:** سُبْحٰنَ اللّٰه! څنګه چې د حسن رضا سالګره اوشوه دا ډیره د برکت باعث ده ځکه چې په کوم کور کښې دا سلسله اوشوه په هغه کور کښې ذِکرِ خدا او ذِکرِ مصطفٰي کیدلو او دعاګانې

کیدلې او په داسې موقع د الله پاک رحمت نازلیږي چنانچه حضرت سُفیان بن **عُیَیْنه** رَحۡمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: د نیکانو خلقو د ذکر په وخت کښې رحمت نازلیږي (حلیۃالاولیاء،7/335،رقم:10750) نو چې کله د نیکانو د سردار، شهنشاهِ ابرار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیږي او د هغوئي نعت بیانِیږي نو په دغه وخت کښې به رحمت ولے نه نازلیږي؟ بیا چې کله رحمت نازلیږي او کوم خلق چې په هغه ځائے کښې ناست وي آیا په هغوئي به د رحمت باران نه راوَرِیږي؟ او هر کله چې دا تول د رحمت په باران کښې وي نو د چا چې سالګره ده هغه مدني ګل به هم دغلته موجود وي آیا د رحمت څاڅکي به په هغه نه وَرِیږي؟ او په چا چې رحمت نازلیږي نو آیا هغه ته به برکت نه ملاویږي؟ بےشکه په دغه محفل کښې به دعاګانې هم کیږي او برکتونه به هم ملاویږي- د سالګرے وغیره په موقع باندې د داسې تقریبونو او محفلونو انعقاد کول پکار دي- خو چې کله هم د نعت شریف اهتمام کوئ نو یو مبلّغ هُم ضرور راغواړئ چې هغه د سنّتو ډک بیان اوکړي مدني ګلونه بیان کړي، او د اصلاح خبرې اوکړي، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ زمونږ دلته د دعاګانو رَوَاج دے چې ماشومانو ته دعاګانې اوشي او د هغې فائده هم ورته ملاو شي او چې په آخرت کښې ئې هم حصه اوشي-

## ماشومانو باندې د بزرګانو د نظر اچولو فائدے

په قرآن پاک کښې د دعا د قبُولیّت خوشخبري موجوده ده: ﴿اُدۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَکُمۡ﴾ (پ24،المؤمن:60) [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالایمان: ”زما نه دعا اوغواړئ زه به ئې قبلَوم-“ کوم ماشومان چې نیکان شي او علمِ دِین حاصل کړي او د دینِ متین خدمت کوي، هیڅ بعید نه ده چې (په ماشوموالي) کښې هغوئي ته دعاګانې شوي وي او هم د هغه دعاګانو په اثر هغوئي ته دومره لوئ مقام حاصل شوے وي! اګر چې چا ته معلومه نه شي چې زما په حق کښې د چا دعا قبوله شوي ده، پخوا به خلقو خپل ماشومان د بزرګانو بارګاه ته بوتلل، د هغوئي د پاره به ئې پرې دعا کوله، په خپلو ماشومانو به ئې د هغوئي نظر اَچولو او په هغوئي به ئې دم کول- کله چې زما د پاره د حفاظتي

اُمُورو مسائل نه وو او زما د پاره جُمات ته د لمُونځ کولو د پاره آزادي وه هغه وخت کښې ما ډېر کَرَته لیدلي وو چې هلکانو به د خپل کور وارِه ماشومان په غیرِه کښې نیولي وو یا به ئي په لوښې کښې اوبه نیولي وې او د جُمات مخې ته به ولاړ وو چې کوم لمُونځ کوونکے ځې راځي چې دا ماشوم یا دا اوبه دم کړي- اوس هم کیدے شي چې داسې کیږي، دا یو ښه او نیک کار دے داسې کولو سره د الله پاک رحمت او ډیر برکتونه هم حاصلیږي- بهرحال مونږ ټولو ته د بیان شوې طریقے مطابق د خپلو ماشومانو سالګره کول پکار دي-

## په دیني ماحول کښې د سالګرے انداز

**سوال:** د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې د ماشومانو د سالګرے کولو انداز څه دے؟

**جواب:** زمونږ په دیني ماحول کښې د سالګرے انداز دا دے چې د محفلِ نعت پروګرام کیږي- بیا د نیاز [خیرات] اهتمام کیږي، هغه د سردارِ دوجهان صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، غوثِ پاک او نورو بزرګانو په بارګاه کښې نذر کیږي [یعني د هغې ثواب وربخښلے کیږي]- هسې خو عام طور په سالګره کښې کیک کَټ کَوَل، شمعې بلَوَل او بیا [هغه شمعې] مړې کول او معاذالله پوکنړۍ ماتوَل کیږي حالانکه پوکنړۍ ماتول جائز نه دي ځکه چې دا د مال ضائع کول دي- د دعوت اسلامي په دیني ماحول کښې دا طریقه نشته- که څوک داسې کوي نو هغه ته به دعوتِ اسلامي والا نه وائې- په دیني ماحول کښې چې د سالګرے کوم انداز دے دا جائز طریقه ده، یو عقلمند هم دې ته غلط نه شي وئیلے- خو! دې ته د سنّتو ډک انداز وئیل نه دي پکار- دغه شان که تاسو هم د خپلو ماشومانو سالګره کوئ نو په هم دې بهانه خپل خپلوان راجمع کړئ او د غوث پاک نیاز اوکړئ یو نیک بنده مثلاً امام صاحب یا یو عالم صاحب یا یو مُبَلِّغ را اوغواړئ او د ماشومانو د پاره پرې دعا اوغواړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه د ډیرو ثوابونو خزانه به په لاس درشي-

## ورځ په ورځ عمر زیاتیږي که کمیږي؟

سوال: د سالګرې په موقع وائي: ” د ماشوم عُمر یو کال زیات شو“ آیا واقعي د ماشوم په عمر کښې اِضافه کیږي؟ او په داسې موقع داسې جملو وئیلو کښې څه حرج خو نشته؟

جواب: نن صبا د سالګرې په موقع خلق وائي: ”ماشوم د دومره کالو شو او دومره لوئ شو“ په حقیقت کښې هغه لوئ کیږي نه بلکه وړوکے کیږي- مثلاً د الله پاک په عِلم کښې که د حسن رضا عمر 92 کاله وي او اوس هغه درې کاله تیر کړل نو دا په ښکاره خو لوئ شو او ده ته غټ وئیلو کښې څه حرج هم نشته خو په حقیقت کښې دې د 89 کالو پاتې شو یعني دے درې کاله وړوکے شو- د سالګرې په موقع د دې انداز نه هم عِبرت حاصلول پکار دي- نن صبا بوډاګان بوډاګان خلق خپله سالګره کوي او خوشحالیږي حالانکه بوډا او خوشحالي دا دوانړه مُتضاد څیزونه دي- که بوډا مُسکے شي نو هم  شاته ئې د غمونو لویه دنیا وي، که هغه خاندي نو هُم شاته ئې د تکلیفونو طوفان وي خو دا هغه بوډا وي کوم چې حسّاس طبعیت لري، د چا په زړه کښې چې د مرګ او د الله پاک ویره وي- او کوم بوډاګان چې په غفلت کښې پراته دي نو داسې بوډاګان زما مراد نه دي- زه د هغه بوډاګانو خبره کووم کوم چې زما په خبرو پوهیږي او هغوئي د دې خبرې شعور هُم لري-

## د سالګرې په موقع پوکنړئ ماتول او کیک کټ کول څنګه دي؟

سوال: د سالګرې په موقع پوکنړئ ماتول او کیک کټ کول څنګه دي؟

جواب: په دې زمانه کښې خو د خلقو د سالګرې په موقع دا حال وي چې په زوره زوره خنداګانې کوي، په زوره زوره happy birth day وائي، پوکنړئ ماتوِي، حالانکه پوکنړئ ماتول اِسراف او یو فضول کار دے، په دې کښې مال ضائع کیږي صرف پوکنړئ لګول ناجائزه نه دي بلکه د دې ماتوَل او ضائع کوَل اِسراف دے لهٰذا داسې رَسم شروع کول پکار نه دي

چې د هغې په وجه مسائل پيدا کيږي- مونږ د سالګرے په موقع نه پوکنړئ زوړندَوُو او نه کيک کټ کوُو دا زما نه دي خوښ- زما سالګره يعني Birth Day، په 26 رمضان المُبارک باندې اسلامي ورونړه لمَانځي خو ماته پته ده چې په دې ماته خوشحالي حاصليږي او که بل څه؟ ''مَن آنَم کہ مَن دَانَم'' يعني زه خپل ځان پيژنم چې زه څه يم؟'' په دې کښې بعضې اسلامي ورونړه کيک هُم کټ کړي، دا کيکونه ماته هم ملاؤ شوي دي خو زه داسې کوونکي هره پيره پوهه کووم چې دا ځل مو کيک کټ کړو خو بيا داسې مه کوئ- زه داسې طرز عمل رَواج جوړول نه غواړم ځکه چې د سالګرے په عامو تقريبونو کښې چې کله کيک کټ کيږي نو لاسونه پړقوي او په زوره زوره Happy Birth Day وئيلو سره په زوره زوره خنداګانې هُم کوي- معلومه نه ده چې په دې کښې څومره خلافِ سنّت کارونه کيږي بيا د دې ټولو نه لويه خبره د نارينؤ او زنانؤ يو ځائے کيدل او يو ځائے د لاسونه پړقولو سلسله وي حالانکه د [نامحرمه] زنانه او نارينه بےپرده کيدل او يو ځائے راجمع کيدل او لاسونه پړقول حرام دي-'' (بهارشريعت،3/511،حصه:16ماخوذا) لهٰذا د کيک کټ کولو او د لاسونو پړقولو په ځائے د نعت خوانئ اهتمام کول پکار دي، که نعت خواني چا ته خوند نه ورکوي نو هُم [د دې په بَرَکت به کم از کم] د لاسونو پړقولو او د دې په شان نورو ګناهونو نه محفوظه وي- چې نعت مصطفٰي اوري اوري نو دغه شان به ئې په زړه څه نه څه اثر خو اوشي، د دې برکتونه به هُم ورته ملاويږي او اِنۡ شَآءَاللّٰه ډير رحمتونه به ئې نصيب شي-

## د علماؤ صلحاؤ دربار ته د ماشومانو وړل فائده مند وي

سوال: امامُ الحَرَمَين حضرت سيّدنا عبدالمَلِک بن عبدالله جُوَينی رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د حضرت سيّدنا امام محمد غزالی رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه استاد دے، سيدنا امام محمد غزالي رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه هغوئي اوليدلو نو ځکه د علم دين حاصلولو طرف ته مائله شوو وو، دوئي فرمائي: ما ته چې کوم مقام او

مرتبه ملاو شوي ده د هغې ښکاره سبب دا دے چې زما والد صاحب به زه د علماؤ او صُلَحاؤ بارګاه ته بوتلم او د هغوئي نه به ئې زما د پاره دعاګاني اخستلې- دا ارشاد اوفرمائي چې آيا د علماؤ او صلحاؤ بارګاه ته اوس هم ماشومان بوتلل او د هغوئي په حق کښې په هغوئي دعا غوښتل فائده مند دي؟ (د مفتي صاحب سوال)

**جواب:** د علماؤ او صلحاؤ بارګاه ته ماشومان بوتلل بےشکه فائده مند دي، په دې کښې هيڅ شک و شُبه نشته- هر يو نيک بنده ته په ماشومانو باندې د نظر اچولو او د ماشومانو په حق کښې د دعا درخواست کولے شي- اعلٰي حضرت، امام اهلِ سنت مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، جلد 22 صفحه 394 کښې څه داسې ليکي چې يو ځل حضرت سيدنا شيخ شهابُ الدّين سُهروَردِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په مِنٰي شريف کښې د موجود مسجِدِ خَيف شريف په صفونو کښې تلو راتلو- چا عرض اوکړو: تاسو داسې ولې کوئ؟ ارشاد ئې اوفرمائيل: زه ځکه داسې کووم چې د الله پاک څه بندګان داسې دي چې که د هغوئي يو نظر په چا پريوځي نو هغه ته هميشه د پاره سعادت ورعطا کړي -[1]

ياد ساتئ! د کوم لوبغاړي، فلمي اداکار او ډانسر سره خپل بچي ملاوول د سعادت خبره نه بلکه د بربادئ کار دے- که يو کس د نيکو په حواله مشهور نه وي خو هغه لمُونځ ګزاره دے، ګيرې والا دے، عمامه په سر کوي يا ټوپئ په سر کوي نو دغسې چې چا ته اوګورئ نو عام طور اندازه اوشي که دغه شان يو نيک بنده وي نو د هغه خوا ته خپل بچي د نظر اچولو د پاره بوځئ، اګر که که دم ئې نه کړي، صرف د هغوئي مخې ته ئې اودروئ يا ماشوم د هغوئي په لاس کښې

[1]... حضرتِ سَيِّدُنا علّامه محمد عبدُ الرَّءُوف مناوی رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ليکي: حضرتِ سَيِّدُناشَيخ شِهَابُ الدِّين سُهروَردی رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په منیٰ کښې د قيام په ورځو کښې د مسجد خَيف شريف په صَفونو کښې دوره فرمائيله- چا ترينه د وجهې تپوس اوکړو نو اُوئې فرمائيل: لِلّٰهِ عِبَادٌ اِذَا نَظَرُوْا اِلٰى شَخْصٍ اَكْسَبُوْهُ سَعَادَةَ الْاَبَدِ فَاَنَا اَطْلُبُ ذٰلِكَ يعني د الله پاک څه بندګان داسې دي چې کله د هغوئي نظر په يو کس پريوځي نو هغه ته د هميشه د پاره سعادت عطا کړي، زه د هُم هغه نظر په تلاش کښې دوره کووم -

(التيسير بشرح الجامع الصغير، 1/ 485)

ورکړئ که د هغه نیک نظر پرې اولګیدو او ماشوم ئې اوچت کړو او ښکل ئې کړو نو بیا خو مدینه مدینه-

## د ژبې نَښتلو صحیح کیدلو طریقه

سوال: د چا ژبه چې په خبرو خبرو کښې نښلي د دې د پاره روحاني وظیفه راعطا کړئ-

(د شارجه نه سوال)

جواب: د هر لمانځه نه پس اُووه [7] کَرَته دا څلور آیتونه تلاوت کوئ، که اووه ځله ئې نه شئ تلاوت کولے نو یو ځل ئې تلاوت کوئ:

| | |
|---|---|
| رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿۲۵﴾ وَ يَسِّرْ لِيْۤ اَمْرِيْ ﴿۲۶﴾ وَ احْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ﴿۲۷﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿۲۸﴾ (پ16، طٰهٰ:25تا28) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: اے زما ربه! زما د پاره زما سینه پرانِزې او زما د پاره زما کار آسان کړې او زما د ژبې غُوټه خلاصه کړې چې هغوئي زما په خبره پوهه شي- |

د اَوَلني آیت په شروع کښې لفظ "قَالَ" دے، وظیفه لوستلو وخت کښې دا لفظ مه وائې که اَدا هم کړو نو دا به د سیّدنا موسٰی کلیم الله عَلَیْهِ السَّلَام د قول حکایت بیان شي چې دا د هغوئي دعا ده. هغوئي په ماشوم والي کښې په خُله کښې سکروَټه اچولې وه د هغې په وجه ئې په ژبه مبارکه کښې غوټه پیدا شوې وه نو الله پاک هغوئي ته دا دعا تعلیم اوفرمائیله- که د ماشوم ژبه پکښې نښلي او دا آیت نه شِي تلاوت کولے نو مور پلار یا که هر څوک وي چې څوک صحیح قرآن پاک تلاوت کولے شي هغه دِ ئې لوَلي او ماشوم دِ پرې دم کوي الله پاک به ئې د ژبې غوټه خلاصه کړي-

## اغوا کیدلو نه د حفاظت تدابیر او اوراد و وظائف

سوال: نن صبا ډیر ماشومان اغوا کیږي لهٰذا په دې باره کښې احتیاطي تدبیرونه او اوراد و

وظائف اوښائي- (د حیدر آباد نه سوال)

**جواب:** آو جي! نن صبا د ماشومانو د اغوا کیدلو سلسله جاري ده- الله پاک دِ کرم اوفرمائي معلومه نه ده چې ماشومان ولې اغوا کوي ماته د صوتي پیغام [یعنی وایس میسیج] په ذریعه یو اسلامي ورور اووئیل چې په زم زم نګر (حیدر آباد) کښې د شپږو کالو ماشومه اغو کړے شوه او بیا په دویمه ورځ د هغې مړے په بورئ کښې بند ټکړے ټکړے شوے په ډیران کښې ملاؤ شو- د شپږو کالو د بےوسې ماشومې په ډیره بےدردئ سره شهیده کیدل او مړے ئې په ډیران کښې ملاویدل د عقل نه بهر خبره ده- عموماً د دشمنئ او خانداني مسائلو په وجه خلق داسې قسمه وارداتونه کوي- په دې واقعه کښې د هغې بے وسې ماشومې د مور پلار د پاره ډیره د خفګان خبره ده- الله پاک دِ هغوئي ته صبر نصیب کړي- دغه شان د تاوان رقم وصول کولو د پاره چې کله د چا ماشوم اوچت کړے شي نو د هغه ټول خاندان، کورنئ او د قبیلے خلق به ناقلاره اوسي! ښکاره خبره ده چې د ماشومانو د تاوان د پاره تښتولو والا به مدني چینل نه ګوري ځکه که هغوئي کتلے نو بیا به ئې داسې کار نه کولے- څوک چې ماشومان تښتوي او په دې وجه خلق پریشانه کوي هغوئي ته دِ الله پاک هدایت نصیب کړي او کاش! چې هغوئي ته د دې سوچ کولو توفیق نصیب شي چې ماشومان تښتول د ګناه کار دے او ډیر زر مرګ راروان دے-

## ماشومان یواځې مه پریږدئ

د ماشومانو د حفاظت د پاره یو احتیاطي تدبیر دا دے چې ماشومان یواځې مه پریږدئ او په تلو راتلو کښې دِ یو مشر ضرور د هغوئي سره موجود وي ځکه چې د یواځې کیدلو په صورت کښې د هغوئي د اغوا کیدلو خطره زیاته شي او د مشر کس په موجودګئ کښې خطره کمه شي- او ماشومانو ته دِ دا تربیت هم ورکړے شي چې کله تاسو څوک نیول غواړي نو ژړا او چغې سُورې جوړې کړئ چې اغوا کوونکے د دې وجهې نه اوتښتي چې هسې نه خلق راجمع شي او ما اُونیسي- د ماشومانو دا ذهن جوړول هم پکار دي چې څوک خومره لالچ هم درکړي،

ټافیانې او د لوبو څیزونه دربشکاره کړي خو هغوئي سره به بالکل نه ځئ- مونږ ته په کور کښې د شروعِ نه دا تعلیم و تربیت راکړے شوے وو چې څوک پیسے یا بل څه درکوي بلکه زما والِدے صاحِبې خو به تر دې پورې وئیل چې که څوک درته د سرو زرو ډیرے هم مخې ته کیږدي بیا هم خواه ته مه ورځئ-

## د ماشومانو د حفاظت وظیفه

د ماشومانو د حفاظت وظیفه دا ده چې اوّل او آخر یو ځل درود شریف او یوولس ځله "یَاحَافِظُ یَاحَفِیۡظُ" اووئیلے شي او ماشومانو پرې دم کړے شي نو د حفاظت په دائره کښې به راشي او اِنۡ شَآءَاللّٰه څوک به هم هغوئي نه شي اغوا کولے- اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ د مجلسِ روحاني علاج په نګرانئ کښې په ملک کښې دننه او بهر ملکونو کښې په سوونو بلکه په زرګاؤ بَستے قائمې دي او عالمي مدني مرکز فیضان مدینه کراچئ کښې هم بسته قائمه ده لِهذا د تعویذاتِ عطاریه د بَستو نه د حفاظت تعویذ ترلاسه کړئ او ماشومانو ته ئې په غاړه کړئ که څوک هم دوئي تښتول غواړي نو په دغه وخت کښې به دوئي ته چغې او ژړا ورپادیږي او هغوئي به چغې او ژړاګانې شروع کوي یا الله پاک د هغوئي د مدد کولو د پاره څوک رالیږي یا اغوا کوونکي ماشوم اُووِیني نو هغوئي به اوتښتي یا اغوا کوونکي چې ماشومانو ته لاس اچوي نو په هغوئي به ویره راځي او هغوئي به بیرته تښتي نو د تعویذ په برکت د الله پاک له طرفه داسې اسباب پیدا کیدے شي او دغسې د تعویذ په ذریعه د ماشومانو د حفاظت صورت جوړیدے شي-

## د غټو د حفاظت وظیفه

د غټو د پاره د حفاظت وظیفه دا ده چې هغوئي کله اودس کوي نو د هر یو اندام وینځلو په وخت کښې دِ یو ځل "یَاقَادِرُ" وائي مثلاً کله چې اودس شروع کړي نو د ښي او ګَڅ لاس وینځلو په وخت کښې دِ یو ځل "یَاقَادِرُ" اُووَئي، دغه شان چې کله خله کنګالوِي نو په دویم

ځل د خُلې کنګالولو نه مخکښې دِ "يَاقَادِرُ" اووائي بيا چې کله په پوزه کښې يو ځل اوبه واچوي نو بيا دِ لږ صبر اوکړي او يو ځل "يَاقَادِرُ" دِ اووائي بيا دِ دوه ځله په پوزه کښې اوبه واچوي- دغه شان د هر اندام وينځلو په وخت کښې او د سَر مسح کولو په وخت کښې دِ يو يو ځل "يَاقَادِرُ" اووائي، دې سره سره دعاګانې هم وئيلے شي خو د دعاګانو په ځائے درود شريف وئيل افضل دي لهٰذا درود شريف وئيل پکار دي- که خلق داسې احتياطونه اوکړي او اوراد و وظائف لولي نو اِنْ شَآءَاللّٰه ډيره بهتري به راځي-

## بَيسن باندې اودس کولو وخت کښې "يَاقَادِرُ" وئيل څنګه دي؟

**سوال:** آيا په واش روم کښې اودس کولو وخت کښې هُم "يَاقَادِرُ" وئيلے شې؟

**جواب:** نن صبا د مالدارو خلقو په کورونو کښې د سهولياتو پوره انتظام وي او ډير زبردست ډيکوريشن وي- دغه شان د متوسّط يعني درميانه طبقے خلقو او چې کوم صرف د نوم غريبانان وي د هغوئي په کورونو کښې هم ډيکوريشن وي او ښائسته ئې جوړ کړے وي خو اودس خانه پکښې نه وي- د دعوت اسلامي ديني ماحول سره وابسته خلقو کښې هم د بعضو په کورونو کښې د وادس خانے انتظام نه وي حالانکه په کورونو کښې د اودس خانو جوړولو ډير کَرَته ترغيب ورکړے شوے دے او د رهنمائي د پاره د مَكْتَبَةُالْمَدِينه نه شائع شوې رِساله "د اودس طريقه" کښې د اودس خانے نقشه هم چاپ شوي ده- عام طور په کورونو کښې بيسن باندې اودس کوي او بيسن د واش روم سره جوړ وي- ياد ساتئ! که بيسن د واش روم سره جوړ وي نو د اودس کولو په وخت کښې "يا قَادِرُ" او د اودس نه مخکښې "بِسْمِ الله" نه شي وئيلے- ولے چې د اودس نه مخکښې "بِسْمِ الله" وئيل مستحب دي او فقط د الله پاک نوم اخستل سنّتِ مؤکّده دي- (بحر الرائق، 39/1) نو ځکه که واش روم سره خواه کښې بيسن باندې د اودس کولو په وجه د دې د پرينښودلو عادت جوړ کړي نو ګنهګار به شي لِـهذا په داسې صورت کښې به د "بِسْمِ الله" وئيلو د پاره د واش روم نه بهر وتل ضروري شي-

# w.c او بيسن دواړه بيل بيل کړئ

که د واش روم احاطه لويه وي نو W.C يا کموډ (Commode) ته د سلائيډنګ دروازه يا شيشه اولګوئ او داسې ئې کوَر کړئ چې په کتلو کښې بيل بيل ښکاري په داسې صورت کښې بيا اودس کولو وخت کښې "يَاقَادِرُ" او "بِسْمِ اللّٰه" وئيلو کښې څه حرج نِشته- ياد ساتئ صرف د پلاسټک پرده لګولو سره يا W.C يا کموډ پټولو سره کار نه کيږي بلکه د دې د پاره څه پيړ څيز مثلاً لرګے، سيمنټ، اَيلمونيَم يا د هارډ بورډ ديوال لګولو سره کوَر کول [يعني پټول] ضروري دي- ما په خپل کور کښې په واش روم کښې او فيضان مدينه کښې د خپل استعمال واش روم کښې W.C [والا طرف] هُم دغسې کوَر کړے دے- چې زما کله د ارب پټّي خلقو کور ته د تللو اتفاق اوشي نو اودس کول خوند نه راکوي ځکه چې په ولاړه ولاړه په بيسن اودس کول وي- په کومو کورونو کښې چې په بيسن اودس کول وي يا خو به په هغه کورونو کښې بُوډاګان نه وي يا به هغوئي عاجزان هُم په ولاړه ولاړه اودس کوي او د دې په وجه به د هغوئي ښپے دردونه کوي او په بعضې وخت کښې به هغوئي راغورزيږي هم- ياد ساتئ چې کله بوډا کس اوغورزيږي نو که د هغه د بدن څه نازک ځائے زخمي شي يا ئې هډوکي مات شي نو هغه نه شي پاڅيدلے بلکه بيا به هغه به په اُوګو وړل غواړي او بيا به هغه عاجزه د ژوند کال دوه کاله په تڪليف برداشت کولو کولو کښې پوره کوي ځکه چې د کمزورئ په وجه د هغه هډوکي په اسانئ سره نه جوړيږي- نن صبا په کورونو کښې قسماقسم سهولتونه، سويمنګ پول او حوض جوړ وي خو د اودس خانے جوړولو د پاره ورسره دوه ګزه ځائے نه وي- په خپلو کورونو کښې داسې ځائے کوم ځائے کښې چې په سهولت سره اودس کيدے شي د جمات د اودس خانے په شان يوه اودس خانه جوړه کړئ او په هغې کښې يو يا دوه نلونه اولګوئ اِنْ شَآءَاللّٰه په اودس کولو کښې به ډيره اساني شي- که په دې نيت په کور کښې اودس خانه جوړه

کړئ چې د الله پاک نوم به پکښې اخستلے کیږي، درود پاک پکښې لوستلے کیږي او ”یَا قَادِرُ“ به پکښې وئیلے شي نو دا اودس خانه جوړول به هم عبادت جوړ شي- اودس خانه څنګه جوړه کړے شي د دې د پاره د دعوت اسلامي د مَکْتَبَۃُالْمَدِیْنه نه ”وضو کا طریقه“ په نوم رساله ترلاسه کړئ او د هغې مطالعه اوکړئ، په دې رساله کښې د اودس خانے جوړولو مدني ګلونه او تصویرونه هم ورکړے شوي دي چې څنګه اودس خانه جوړول پکار دي-

## د کارټون والا پیزار په ښپو کول څنګه دي؟

سوال: نن صبا ماشومان د کارټون والا پیزار او د کارټون والا د لوبو خیزونه د اخستلو ضد کوي، او مونږ د مشرانو نه اوریدلي دي چې د کارټون والا یو خیز هم په کور کښې اِیښودل نه دي پکار، په دې باره کښې شرعي رهنمائي اوفرمائې-

جواب: کوم کارټون چې د ذِي روح یعني ژوندي خیز مثلاً د یو داسې ژوندي اِنسان یا ځناور حکایت کوي [یعني شکل ورکوي] کوم چې هغه خیز موجود وي نو داسې کارټون جوړول، ناجائزه او ممنوع دي، ځکه چې دا د تصویر په حکم کښې دے- (مرقاۃ المفاتیح، 8/266، تحت الحدیث: 4489) پاتې شوه د کارټون والا پیزار معامله! نو چې په پیزار که هر څنګه تصویر وي، اګر که هغه د یو انسان تصویر وي نو بیا هم که ماشوم هغه چپله په ښپو کوي نو څه ممانعت نشته، ځکه چې پیزار د توهین ځائے دے، په دې [یعني هیزار] باندې موجود تصویر نه د رحمت فرشتو ته څه رکاوټ شته او نه ددې نه په لمُونځ کښې څه مسئله شته-(بهارِ شریعت، 1/629، حصّه: 3 ماخوذا) البته په پیزار د ژوندي خیز تصویر جوړولو والا به ګنهګار وي-(مرقاۃ المفاتیح، 8/266، تحت الحدیث: 4489) د لوبو خیزونه چې جائز وي په هغې لوبې کولے شي، خو هغه د توهِین په ځائے باندې کیښودل پکار دي- بعضې خلق په کورونو کښې شوکیس یا خانے جوړوي او په هغې کښې داسې تصویرونو والا د لوبو خیزونه کیږدي کوم چې د ساه لرونکي خیز حکایت کوي، په دې باندې وعید [یعني د

عذاب خبردارے] دے او د دې په وجه د رحمت فرښتے کور ته دننه نه راځي- (بخاری،2/385،حدیث: 3225) البته که داسې د لوبو څیزونه اخواه دیخواه پراته وي او په ښپو لړي رالړي نو بیا ئې څه ممانعت نشته-

## د ماشومانو سره نرمي کوئ

سوال: آیا واړه ماشومان چې د لوبو په عُمر کښې هغوئي ته د مور و پلار خدمت کول پکار دي؟

جواب: وړو ماشومانو ته هم د مور و پلار خدمت کول پکار دي، که د اوس نه خدمت کوي نو چې کله لوئ شي بیا به ئې هم کوي، او د مور پلار دعاګانې به هم اخلي او هغوئي به خوشحالیږي هم- خو مور پلار له پکار دي چې ماشوم نه د هغه د طاقت او همّت مطابق خدمت اخلي، دومره خدمت دِ ترینه نه اخلي چې په ماشوم بوج جوړ شي او هغه ستړے شي- کله چې ماشوم خدمت کوي نو مور و پلار له پکار دي چې د هغه د زړه ساتنه او حوصله افزائي کوي، زړه ساتنه د ثواب کار دے، او حوصله افزائي د ماشوم مضبوطوالے دے- د زړه د ساتنې دنیاوي فائده دا ده چې ماشوم ډیر کار کوي او د زړه د شوق نه ئې کوي- تر څو چې د ماشوم حوصله افزائي اُونشي هغه ترقي نه کوي- که ماشوم رټئ او وهئ ټکوئ او تنقیدونه پرې کوئ نو د هغه به زړه مات شي او په یو ځائے به کښیني [یعني ترقي به نه کوي]- ماشوم چې کله ډیر ښه کار اوکړي نو هغه ته انعام ورکول هم پکار دي او دعا کول ورته هم پکار دي، داسې نه وي پکار چې هر وخت ماشوم وَهې او رَټې، ځکه چې که د قبولیت وخت وي او په هغه ښیرې اولګي نو بیا به تاسو هُم ژاړئ- کوم مور و پلار چې هر وخت خپل ماشومان رَټي په هغوئي کښې د علم او تربیت کمي وي- مور چې د پلار په دماغو کښې دا خبرې اچوي چې "تا دې په سَر خیژولے دے، ته ورته څه نه وائې، ته ئې نه وهې، دې اووهه، د پلار رُعب وي، سختي پرې کوه" که پلار په دې خبرو کښې راشي نو اولاد به ئې به یو وخت داسې باغیان

شي چې کله غټ شي نو مور او پلار ته به د اولډ هاؤس لاره ښائي- د مور و پلار خير په هُم دې کښې دے چې نرمي دِ کوي مينه دِ کوي، ټيک ده چې ضرورتاً د شريعت په حُدودو کښې سختي هم کولے شي خو په خبره خبره رټل، او ټوکل صحيح نه دي، بلکه نقصاني دي-

## ماشومان ضد ولے کوي؟

**سوال:** واړه ماشومان ډير ضديان وي د دوئي څنګه داسې تربيت اوکړے شي چې دوئي ضديان نه جوړيږي او کوم وخت چې دوئي ضد کوي نو دغه وخت کښې داسې څه اوکړے شي چې د ضد نه منع شي؟ او د ماشومانو د تربيت په باره کښې هُم رهنمائي اوفرمائې-

**جواب:** که دوئي ضد نه کوي نو هغوئي ته به ماشومان څوک وائي؟ ماشومان څه نه څه ضد خو کوي د دې نه لويو ته دا خبره زده کول پکار دي چې هغوئي ضد کوي او په خپله باره کښې دا خبره ښائي چې زه ماشوم يم خو تاسو ماشومان نه ئې لهٰذا تاسو ضد مه کوئ- يعني ضد کول د ماشومانو کار دے د لويو نه-

د ماشومانو مستقل طور د ضدي کيدلو وجه دا وي چې مور و پلار د شروع نه د هغوئي هر يو ضد پوره کوي نو ماشومان چې کله غټ شي بيا هم په دغه عادت کښې مبتلا وي- په شروع شروع کښې لويو ته ماشوم ډير ګران او ښکلے ښکاريږي، څه چې غواړي د هغې نه زيات ورکوي خو چې لږ غټ شي نو د هغه هره غوښتنه نه شي پوره کيدلے، دغسې د ماشوم په ذهن کښې دا خبره کښيني چې مخکښې به ما څه غوښتل هغه به راته ملاويدل خو اوس زما مطالبات نه پوره کيږي، دغه شان هغه ضد شروع کړي- بعضې وخت فضول ضد کوي خو د دې هيڅ کله دا حل نه دے چې په ماشوم دِ راکيږدي بلکه د دې علاج دا دے چې د ماشوم ضد پوره کول پريږدئ په قلاره قلاره به د هغه دا عادت ختم شي- په دې کښې هم دا نه ده پکار چې يو دم ماشوم له هر څه اخستل بند کړئ بلکه کله کله ئې ضد پوره کوئ ګنې ماشوم به باغي شي او د مور و پلار په باره کښې به بدګُمانه شي او د هغه په ذهن کښې به په غير

محسوسه طريقه دا خبره کښيني چې زما مور پلار په ما ظلم کوي- هُم داسې ماشومان وي چې کله لوئ شي نو بيا دا خبرې کوي چې مونږ سره مور و پلار کله مينه نه ده کړې! بهتري په هم دې کښې ده چې په حکمتِ عملئ سره د خپلو بچو د ضد عادت ختم کړئ- ياد ساتئ! دا عادت يو دم نه ختميږي- بعضې مور و پلار د خپلو بچو سره انتهائي نامُناسِبه انداز اختياروي هغوئي په خبره خبره رَټي بلکه وهي او ټکوي ئې هم، د هغوئي يو ضد هم نه پوره کوي، د هغوئي خبرې ته اَهَمِّيَّت نه ورکوي، خرچه کوي خو د ماشوم په خوښه نه، ځکه چې ورته څه ښه ښکاري هغه کوي، دغه شان بچي د خپل مور و پلار نه باغيان شي او بيا هغوئي عاجزان نافرمانئ شروع کړي او خپل آخرت خراب کړي-

## د ماشومانو د ضد ختمولو روحاني علاج

که ماشوم ضد کوي او په مور و پلار کښې کوم يو صحيح قرآن لوستلے شي نو روزانه دِ يو يو ځل يا درې درې ځله سورۀ فلق او سورۀ ناس اوّل آخر يو ځل يا درې ځله درود شريف وائي او ماشوم دِ پرې دَم کوي اِنْ شَآءَاللّٰه بهتري به راشي-

## "بَو" او "وے" څوک دي؟

**سوال:** مشران بعضې وخت د ماشومانو د ويرَولو د پاره وائي چې"بَو به راشي، يا وے به راشي، يا بَو! به دِ اوخوري" دا بَو او وے څوک دي؟ چې دوئي ښکاري هُم نه او ماشومان ترينه هُم يريږي. (محمد دانيال عطارى- طالبِ علم مَدرَسةُ الْمَدينه کورنګي نمبر ډهائي ، کراچي)

**جواب:** دا **بَو** او **وَے** هسې فرضي نومونه دي، د دوئي هيڅ وجود نشته- ماشومانو ته داسې وئيل چې "وے به راشي، تا به يوسي، يا تا به ملنګ يوسي، هاغه دے بَو راغے" بعضې صورتونو کښې دروغ هم وي او د مور پلار په نامۀ اعمال کښې ګناه ليکلے کيږي- (ابو داود، 4/387، حديث: 4991ماخوذا) نور د دې نقصان دا وي چې ماشوم بُزدله شي او د هغه په زړه کښې ويره کښېني- بيا

د سحر لــمانځه له تللو د پاره په تياره کښې وِيَرِيږي- ماشومان بهادُر جوړول پکار دي، بُزدِل جوړول نه دي پکــار- بعضې وخت مور پلار بچي ته وائي چې ”تا له به د لوبو خيزونه راوړم، بسکټ به راوړم، چاکليټ به راوړم، دا به درکړم، هغه به درکړم“ او نيت ئې دا وي چې ”صرف دے قلارَوُوم ، راوړم ورله نه-“ نو داسې دروغ وئيل نه دي پکــار- اللّٰه پاک دِ مونږ ټول رينښتوني جوړ کړي-

## بغير د اجازت نه د پلار موټر سائکل چلول څنګه دي؟

سوال: بعضې ماشومان د پلار د اجازت نه بغير د پلار موټر سائکل چلَوِي او خاموشۍ سره ئې بيرته راولي او اوئې دروي، داسې کول څنګه دي؟ (محمد طلحه عطاري- طالبِ علم شعبۀ حِفظ مَدرَسةُ الْمَدينه عزيز آباد ، کراچي)

جواب: په دې کښې درې غلطياني ښکاريږي- يوه خو دا چې د پلار د اجازت نه بغير ئې سکوټر بوتلو، ښکاره خبره ده چې په دې کښې به د هغوئي رضامندي نه وي او که هغوئي ته پته اولګي نو خفه کيږي به هم- دويمه غلطي دا چې بغير د لائسنس نه ئې ګاډے اوچلولو، او دريمه غلطي دا چې په کم عمر کښې ئې ګاډے اوچلولو، ځکه چې د اَتلّسو کالو نه کم عمر ماشومانو له ګاډے چلول منع دي، د ايکسيډنټ ډيره خطره وي او د اتلّسو کالو نه کم عمر والؤ ماشومانو لائسنس نه جوړيږي- بغير اجازته او هغه هم په کم عمر کښې ګاډے چلول نه دي پکــار، ځکه چې په دې کښې د مرګ خطره وي او ګاډے هم ماتيدے يا خرابيدے شي او په دې کښې د پلار نقصان دے- که څوک دِ پرې اُووَهلو يا د چا نقصان دِ اوکړو نو بيا به کيس هُم اوشي او په کراچۍ کښې خو د ماشومانو جيل هُم شته دے، که داسې ئې اوکړل نو بيا ماشوم نه شي خلاصيدے، بيا مور، پلار، او د خاندان خلق به ئې بيل پريشانه وي، د ژړا به هم څه فائده نه وي او د جيل نه به تښتيدےهم نه شي- او په دې ټولو خيزونو به پته نه لګي چې څومره پيسے اولګي، ځکه ډير احتياط پکــار دے او د مُلک و شريعت قانون

هم نه دې پرېښودول پکار-

## ماشومان دِ هم نورو ته سلام کوي

سوال: بعضې ماشومان په سلام کولو کښې شرمیږي، مونږ له کومو خلقو ته سلام کول پکار دي؟ (وړوکے ماشوم سیّد محمد عبّاس عطّاري)

جواب: ماشومانو له هم سلام کول پکار دي، چې عادت ئې جوړ شي- چې څوک هم ترینه مشران دي، لکه مور، پلار، مشره خور، ورور، تره، ترور او په کاونډ کښې اوسیدونکي بلکه چې کوم مسلمانان دي هغوئي سره مخامخ کیدلو باندې یا حسبِ موقع سلام کول پکار دي- چې کور ته راشي نو سلام دِ اوکړي، که د چا کور ته لاړ شي نو سلام دِ کوي، د اوس نه ئې چې نه دا عادت جوړ شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه ورستو به ئې دا عادت پکار راځي-


په صفحه 3، 4 اور 10 کښې موجود سوالات د شعبۀ ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت له طرفه قائم کړے شوي دي البته جوابات امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړي دي.


اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ


## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښاڼه کښې کېدونکي **د دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره به "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com